## بلخ نړیوالو ژورنالونو کې د مقالې لیکنې لارښود

دا لارښود د بلخ پوهنتون په نړیوالو ژورنالونو کې په ټولنیزو او طبیعي علومو برخه کې د علمي – څېړنیزو مقالو منلو لپاره تنظیم شوی ترڅو یې پر مرسته د جوړښت او منځپانګې له اړخه معیاري مقالې ترتیب شي.

**د یوې علمي مقالې برخې:** عنوان، لیکوال/ لیکوالان. اړونده اداره، لنډیز، کلیدي کلمې، سریزه، کړنلاره او مواد، موندنې، مناقشه/ بحث، پایله او ماخذونه.

۱- **عنوان (Title):** د لېږل شوې مقالې عنوان باید لاندې ځانګړنې ولري:

۱. نوی او بکر، عملي او د څېړنې وړ وي.

۲. جامع او د څېړنې منځپانګې وړاندې کوونکی وي.

۳. لنډ( له ۲۰ کلمو کم وي)، جزئي، جذاب، له مخففاتو، سوداګریزو نومونو او اضافي کلمو څخه لرې وي.

۴. د پوښتنې په ډول نه وي.

**۲- لیکوال/ لیکوالان (Author / Authors):** د لیکوال ځانګړنې له عنوان وروسته بله کرښه کې په ښۍ خوا کې د ډیپارتمنټ، پوهنځي، مؤسسې، ایمیل ادرس او د څېړونکي د پیژندنې شمېره (ORCID) ذکر کولو سره راوړل شي.

(۱) تبصره: که مقاله د څو لیکوالانو لخوا لیکل شوې وي، مسؤل لیکوال باید ذکر شي.

(۲) تبصره: له افتخاري او تشریفاتي القابو څخه چې علمي بڼه نه لري، ډډه وشي.

**۳- لنډیز (Abstract):** د بلخ پوهنتون په علمي – څېړنیزو نړیوالو ژورنالونو کې د مقالې لنډیز باید لاندې برخې ولري:

۱. په یو پارګراف کې حد اکثر ۲۵۰ کلمې وي.

۲. له متنه مستقل، لنډ، غیر پرېکړه ییز او منسجم لنډیز ترتیب شي.

۳. د مقالې لنډیز د مقالې په اصلي ژبه ولیکل شي او انګلیسي او عربي ته وژباړل شي.

۴. د مقالې لنډیز جوړښت کې لاندې عناصر شامل دي:

- د څېړنې مسأله د پایلو په استناد په یوه جمله کې ولیکل شي.
- هدف په یوه جمله کې او د څېړنې د پای په موخه وټاکل شي.
- میتود په دوه جملو کې، چې په هغه کې د معلوماتو راټولولو، شمېر ټولنه او نمونې اخیستلو اړوند مطالب وړاندې شي.
- د څېړنې اصلي او مهمې موندنې په یوه یا دوه جملو کې بیان شي.

تبصره: په لنډیز کې له جدا عنوانونو لکه سریزه، موخې، میتود، موندنې او پایلې لیکلو څخه ډډه کول پکار دي.

**٤- کلیدي کلمې (Key words):** کلیدي کلمې د مقالې موضوع بیانوي چې علمي ټولنه کې د مقالې معرفۍ او ښودلو کې کارول کېږي او لاندې برخې لري:

۱. کلیدي کلمې معمولاً په مقاله کې ډېرې کارول کېږي.

۲. کلیدي کلمې د مقالې محتوا ښکارندویي کوي او د مقالې اصلي عنوان څخه باید نه وي اخیستل شوې.

۳. له ۳ تر ٦ کلمو پورې وي.

۴. کلیدي کلمې د الفبا تورو پر اساس ترتیب شي.

**۵- سریزه(Introduction):** د مقالې سریزه کې لاندې موضوعات شامل دي:

۱. د هغې مسألې بیانول چې څېړنه پرې ترسره شوې ده.

۲. د مطالعې لاندې مسأله د ترسره شویو مطالعاتو مطابق د علمي شواهدو په وړاندې کولو سره واضح شي.

۳. د موضوع پیژندنه باید د شته اخري شواهدو او ارقامو سره ذکر شي.

۴. په سریزه کې د موخې او اړتیا تر څنګ دا مشخص شي، چې لیکوال د کومو پایلو په لټه کې دی.

۵. د پوښتنو/ فرضیو. څېړنې میتود او د موضوع شالید پکې وړاندې شي.

تبصره: په سریزه کې د جدا عنوانونو لکه موخې، پوښتنې، د څېړنې اړتیا، د موضوع شالید، میتود، موندنې او پایلې ذکر کولو څخه ډډه وشي.

**٦- مواد او د څېړنې اصلي متن (Materials):** اصلي برخه د څېړنه اصلي بدنه یا متن دی چې پکې شواهد، ډیټا او تحلیل پکې وي، باید مستدل، دقیق او په منطقي تسلسل سره وړاندې شي.

**۷- موندنې/ پایلې (Results):** موندنو کې توصیفي معلومات چې په تشریحي ډول او شمېر علایمو لکه عد، رقم او ... سره توضیح کېږي، د لزوم دید په اساس پکې د موضوع اړوند د متغیر په پام کې نیولو سره له ګرافونو، چارتونو څخه ګټه اخیستل کېږي.

تبصره: د جدول توضیحات د جدول پورته او د شکل توضیحات د شکل لاندې ولیکل شي.

**۸- مناقشه (Discussion):** دا برخه د څېړنې موخې او اصلي پایلو په نظر کې نیولو سره په لنډ ډول تشریح او بحث کېږي او پکې لاندې ټکي وي.

۱. د بحث په پیل کې د مهمو موندنو لنډیز په یو پاراګراف کې راوړل کېږي.

۲. له مخکنیو څېړنو سره د پایلو پرتلنه او توپیرونه او مشابهتونه واضیح کېږي.

۳. د ضعف او قوت ټکي یادول او د اړتیا په صورت کې د راتلونکو څېړنو لپاره وړانیزونه وشي.

تبصره: په ساحوي څېړنه کې پایلې او موندنې په نظر کې نیول کېږي.

**۹- پایله (Conclusion):** پایله د څېړنې موندنې او لاسته راوړنې وړاندې کوي، چې د څېړنې د مطالبو له منځپانګې باید د باندې نه وي او په لیکلو کې یې له اوږدو جملو، د متن اطلاعات، انځورونو او جدلونو څخه ډډه وشي او د اړتیا په صورت کې د څېړنې وړاندیزونه د پایلې اخر کې له جدا عنوانه پرته راوړل شي.

**۱۰- مأخذونه (References):** د بلخ پوهنتون علمي څېړنیز نړیوال ژورنال کې د متن منځ او د مقالې پای کې د منابعو لیکل باید د ( APA) سیستم پر اساس تنظیم شي.

| رهنمود تنظیم اندازه قلم مقالات ژورنال‌های بین المللی پوهنتون بلخ | | | | |
|---|---|---|---|---|
| موضوع | | | | نوع فونت |
| | عربی | دری | پشتو | |
| عنوان مقاله | 14 بولد | ۱۴ بولد | ۱۴ بولد | BahijZar |
| اسامی نویسندگان | ۱۱ بولد | ۱۱ بولد | ۱۱ بولد | BahijZar |
| متن چکیده | ۱۲ بولد | ۱۲ بولد | ۱۲ بولد | BahijZar |
| عنوان داخل متن | ۱۲ بولد | ۱۲ بولد | ۱۲ بولد | BahijZar |
| کلیدواژه | ۱۲ | ۱۲ | ۱۲ | BahijZar |
| متن مقاله | ۱۲ | ۱۲ | ۱۲ | BahijZar |
| چکیده و کلمات کلیدی انگلیسی | 12 | 12 | 12 | Times New Roman |
| مقاله انگلیسی متن | 12 | 12 | 12 | Times New Roman |
| منابع و مأخذ | به اساس روش ( APA ) تنظیم گردد. | | | |